فطرت پنځه څيزونه دي: سنتېدل، د نامه لاندې د وېښتانو لرې کول، د برېتونو لنډول، د نوکانو لنډول او د تخرګونو د وېښتانو وېستل

له ابوهريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: «فطرت پنځه څيزونه دي: سنتېدل، د نامه لاندې د وېښتانو لرې کول، د برېتونو لنډول، د نوکانو لنډول او د تخرګونو د وېښتانو وېستل».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د اسلام د مبارک دين پنځه ځانګړني او د پيغمبرانو سنتونه (طريقې) بيان کړي دي: د نر د تناسلي آلې د پاسه د اضافي پوستکي پرې کول، او د ښځينه و لپاره د شرمګاه د پوستکي د سر پرې کول چې د دخول د ځای د پاسه دی. او دويم يې: د نوم د لاندې برخې د وېښتانو لرې کول دي، کوم چې د مخکنۍ شرمګاه شاوخواشاته دي. او دريم يې : د برېتونو لنډول دي، چې نارينه د پاسنۍ شونډې د پاسه د وېښتانو له لرې کولو څخه عبارت دی، تر څو شونډه ښکاره شي. څلورم يې د نوکانو لنډول دي. او پنځم يې: د تخرګ د وېښتانو وېستل دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3144